

# د مصرفونکي پروګرامونه

دا ایالتي او فدرالي پروګرامونه ددې لپاره جوړ شوي دي ترڅو ستاسو سره ستاسو د اوبو او برېښنا بیلونو په تنظیمو او اداره کولو کې مرسته وکړي

## د بیلونو په تادیه کولو کې مرسته

د پیسیفیک ګاز او بریښنا شرکت، د سویلي کالیفورنیا اډیسن، سان ډیاګو ګاز او بریښنا شرکت او د سویلي کالیفورنیا ګاز شرکت ممکن د بیلونو د تادیې مرستندویه پروګرامونه او د تادیې پلانونه لري چې کولای شي ستاسو د بیلونو په اداره کولو کې مرسته وکړي. تاسو کولای شئ چې د بیل په لومړي مخ کې لیکل شوي د پیرودونکو خدماتي تلیفوني شمیرې له لارې په مستقیمه توګه
د اوبو او برېښنا خدماتي ادارې سره اړیکه ونیسئ.
که تاسو د تادیې پلان په اړه خبرو اترو کې مرستې ته اړتیا لرئ، د CPUC د مصرفونکي چارو څانګې سره په 7570-649-800-1 اړیکه ونیسئ. د اوبو خدماتو پیرودونکي کېدای شي هغه مهال د بیلونو د تادیې د پلانونو مستحق وي چې کله د اوبو خدمات
بندېدلو ته نږدې وي. برسېره پردې، د اوبو ډیر لوی شرکتونه د پوځیانو کورنیو لپاره د تادیاتو پلانونه چمتو کوي. د نورو معلوماتو لپاره خپل د اوبو شرکت سره اړیکه ونیسئ.

د کالیفورنیا د عامه خدماتو کمیسیون (CPUC) غواړي تاسو په دې پوه شي چې ډیرى ایالتي او فدرالي برنامې ددې لپاره جوړې شوي دي ترڅو ستاسو د اوبو او برېښنا بیلونو په اداره کولو کې درسره مرسته وکړي. په دې کې لاندې پروګرامونه شامل دي:

- کالیفورنیا لایف لاین
- د کڼو او معلولینو لپاره مخابراتي پروګرام (DDTP)
- د انرژۍ لپاره د کالیفورنیا بدیل نرخونه (CARE)
- د انرژۍ سپمولو مرستندویه پروګرام
- د کم عایده کورنیو لپاره د انرژۍ مرستندویه پروګرام (LIHEAP)
- د کورنۍ لپاره د بریښنا اندازې ټاکلو کې مرسته (FERA)
- طبي بنسټ
- د اوبو شرکت مرسته

**د دې مصرفونکو برنامو په اړه د نورو معلوماتو لپاره:**

دې ویبپاڼې ته مراجعه وکړئ: www.cpuc.ca.gov/team-and-changes

بریښنالیک: cabteamandchanges@cpuc.ca.gov

ادامه ورکړئ

# د اړیکي نیولو اړوند مرسته

## کالیفورنیا لایف لاین

د کالیفورنیا لایف لاین برنامه پر شرایطو برابر کورنیو ته تخفیف لرونکي کورني یا ګرځنده تلیفوني خدمات وړاندي کوي. کورنۍ کولای شي له دوو لارو پر شرایطو ځان برابر کړي: (1) د عاید له مخې، یا (2) د عامه مرستې په وړ پروګرام کې د ګډون له لارې.

**(1)** د عاید له مخې. هغه کورنۍ ددې برنامې وړتیا لري چې د کورنۍ ناخالص عاید یې په لاندې حدودو کې وي:

| | |
|---|---|
| 1 غړي | 23,400$ |
| 2 غړي | 31,700$ |
| 3 غړي | 40,000$ |
| 4 غړي | 48,400$ |
| هر اضافي غړی | 8,400$ |
| عایداتي محدودیتونه د 2024 د جون له 1 څخه بیا د 2025 د می تر 31 پورې د تطبیق وړ دی | |

**(2)** د عامه مرستې پروګرام کې د ګډون له لارې. هغه کورنۍ هم کولای شي چې په دې پروګرام کې د ګډون وړتیا ولري چې د کورنۍ لږترلږه یو غړی یې د عامه مرستې په برنامې کې شامل وي. د پروګرامونو د لیست لپاره، مهرباني وکړئ دې ویبپاڼې ته مراجعه وکړئwww.cpuc.ca.gov/LifeLine.

د قبایلي ځمکو د لایف لاین پروګرام په فدرالي پیژندل شویو قبایلي ځمکو کې د ژوند کولو لپاره پر شرایطو برابرو کورنیو ته اضافي تخفیف ورکوي.

د غوښتنې لپاره، خپل تلیفون شرکت ته زنګ ووهئ یا د کالیفورنیا لائف لاین مرکز ته په 866-272-0349 شمېره اړیکه ونیسئ او په اړه یې نور معلومات ترلاسه کړئ.

## د کڼو او معلولینو لپاره مخابراتي پروګرام (DDTP)

DDTP پروګرام د هغو اشخاصو لپاره چې د اوریدلو، لید، حرکت، ادراکي، او د وینا معلولیت ولري ځانګړي او د لاسرسي وړ مخابراتي تجهیزات او خدمات وړاندې کوي:

### د کالیفورنیا تلیفون لاسرسي پروګرام

هغو اشخاصو ته د اړیکو نیولو ځانګړي او د لاسرسي وړ تجهیزات توزیع کوي چې د تلیفون په کارولو کې ستونزې لري.
دا تجهیزات له کوم لګښت پرته پر شرایطو برابر پیرودونکو ته وړاندي کیږي.

### د کالیفورنیا ریلې خدمات (CRS)

ځانګړي روزل شوي د خدماتو وړاندي کوونکي لري چې د هغو خلکو ترمنځ تیلیفوني خبرې اترې پر مخ وړي چې کاڼه وي، د اوریدلو مشکل ولري، یا د خبرو کولو ستونزې ولري او غواړي د تلیفون له لارې اړیکه ونیسي.

### په ژوندۍ بڼه متن (RTT)

د تلیفوني خبرو اترو پرمهال د متن له لارې په ژوندۍ بڼه د اړیکو نیولو خدمات وړاندي کوي. دا د هغو کسانو د استفادې لپاره جوړ شوی دی چې د ارتباطي خنډونو سره مخ وي، لکه هغه کسان چې کاڼه وي، په اوریدلو کې ستونزه ولري، یا د وینا معلولیت ولري.



### په ژوندۍ بڼه کنفرانس ژباړه (RCC)

دا خدمات د ځانګړو روزل شویو کسانو لخوا وړاندي کیږي چې د هغو کسانو تر منځ چې کاڼه وي، په اوریدلو کې ستونزه ولري، یا د وینا معلولیت ولري او د ټولو هغو کسانو سره چې غواړي د تلیفون له لارې اړیکه ونیسي د تیلیفوني خبرو اترو چاري مخ ته وړي.

### د خبرو د انتقال خدمات (STS)

دا خدمات د ځانګړو روزل شویو کسانو لخوا وړاندي کیږي چې د هغو کسانو تر منځ چې کاڼه وي، په اوریدلو کې ستونزه ولري، یا د وینا معلولیت ولري او د ټولو هغو کسانو سره چې غواړي د تلیفون له لارې اړیکه ونیسي د تیلیفوني خبرو اترو چاري مخ ته وړي.

### د غږ انتخاب پروګرام (VO)

د کلیفورنیا د بیارغوني څانګه د کڼو او معلولینو مخابراتي پروګرام سره په ملګرتیا په کلیفورنیا کې د هغه وړ کسانو لپاره چې د خبرو کولو توان نه لري یا په خبرو کولو کې ستونزه لري د وینا یا خبرو کولو یوه وسیله چمتو کوي.

د غوښتنې لپاره، د DDTP سره په 1-800-806-1191 (غږ)، یا انګلیسي TTY: 1-800-806-4474، هسپانوي TTY: 1-844-867-1135 له لاري اړیکه ونیسي، یا هم د فکس له لاري ورسره په اړیکه کې شئ: 1-800-889-3974، یا هم کولای شئ د لاندي برېښنالیک له لاري ورسره په تماس کې شئ info@caconnect.org.

# د انرژۍ مرسته

## د انرژۍ لپاره د کالیفورنیا بدیل نرخونه (CARE)

د پاملرنې برنامه د پیرودونکو لپاره د برېښنايي بیلونو او طبیعي ګاز په بیلونو کې له 20-35٪ څخه قیمت کمول وړاندې کوي چې د کورنۍ ټول عاید په لاندې محدودیتونو نه کم یا لاندې وي:

| | |
|---|---|
| 1-2 غړي | 40,880$ |
| 3 غړي | 51,640$ |
| 4 غړي | 62,400$ |
| 5 غړي | 73,160$ |
| 6 غړي | 83,920$ |
| 7 غړي | 94,680$ |
| 8 غړي | 105,440$ |
| هر اضافي | 10,760$ |
| عایداتي محدودیتونه د 2024 د جون له 1 څخه بیا د 2025 د می تر 31 پورې د تطبیق وړ دی | |

د لا زیاتو معلوماتو لپاره یا د نوم لیکنې لپاره، د خپل اړوند اوبو او برېښنا شرکت سره اړیکه ونیسئ.

## د انرژۍ سپمولو مرستندویه پروګرام

د انرژۍ سپمولو مرستندویه پروګرام د ټیټ عاید لرونکو کورنیو لپاره چې د CARE عاید لارښووني پوره کوي بې لګښته موسمي خدمات وړاندې کوي. په ځینو وړاندیز شویو کې دا خدمات هم شامل دي په اطاق کې پوم اچول، د انرژي مؤثره یخچالونه ، د انرژي مؤثره دابنونه، د هوا ایستل، د ټیټ جریان اوبو شاورونه، د اوبو ګرمولو کمپلې، د دروازو او ودانیو ترمیم چې د هوا د ننوتلو یا لیک ستونزې کموي. د لا زیاتو معلوماتو لپاره یا د نوم لیکنې لپاره، د خپل اړوند اوبو او برېښنا شرکت سره اړیکه ونیسئ.

## د کم عایده کورنیو لپاره د انرژۍ مرستندویه پروګرام (LIHEAP)

د کلیفورنیا د ټولنیزو خدماتو او پراختیا څانګه (CSD) د ټیټ عاید لرونکو کورنیو لپاره د فدرالي کور انرژي مرستې اداره کوي، د انرژي بحران مداخله، او د ټیټ عاید لرونکو کورنیو لپاره د هوا اړوند پروګرامونه چې د LIHEAP په نوم پیژندل کیږي وړاندې کوي. دا پروګرامونه د فدرالي مرستو لخوا تمویل کیږي ترڅو د هوا اړوند خدماتو او نغدو پیسو چمتو کولو لپاره وړ پیرودونکو سره د دوی د انرژي بیلونو تادیه کولو کې مرسته وکړي. د نورو معلوماتو لپاره CSD سره په 800-433-4327 اړیکه ونیسئ.

## د کورنۍ لپاره د برېښنا اندازې ټاکلو کې مرسته (FERA)

هغه کورنۍ چې د کورنۍ عاید لږ څه د CARE حد څخه ډیر وي ممکن په FERA کې د نوم لیکنې وړتیا ولري، چې د برېښنا ځینې مصارف په ټیټ نرخ ورکوي. د کورنۍ عاید اړوند وړتیا شرایط په لاندې ډول دي:

| | |
|---|---|
| 3 غړي | 64,550$ – 51,641$ |
| 4 غړي | 78,000$ – 62,401$ |
| 5 غړي | 91,450$ – 73,161$ |
| 6 غړي | 104,900$ – 83,921$ |
| 7 غړي | 118,350$ – 94,681$ |
| 8 غړي | 131,800$ – 105,441$ |
| هر اضافي | 13,450$ – 10,760$ |
| عایداتي محدودیتونه د 2024 د جون له 1 څخه بیا د 2025 د می تر 31 پورې د تطبیق وړ دی | |

د FERA برنامه د پیسیفیک ګاز او بریښنا شرکت، سویلي کالیفورنیا ایډیسن، او سان ډیاګو ګاز او بریښنا شرکت له لارې ترسره کیږي. د نورو معلوماتو یا د نوم لیکنې لپاره، د خپل اوبو او برېښنا شرکت سره اړیکه ونیسئ.



## طبي بنسټ

په طبي بنسټ کې مصرفونکو ته د طبیعي ګاز او بریښنا کارولو اړوند د دوی د اوبو او برېښنا شرکت ترټولو ټیټ استوګنې نرخ کې تادیه کیږي.
دا برنامه د هغه مصرفونکو لپاره ده چې د ژوند ملاتړ تجهیزاتو باندې تکیه کوي، یا هغه څوک چې د ژوند ګواښونکي ناروغۍ لري یا یې د معافیت
سیسټم کمزوره وي. دا برنامه د عاید پر بنسټ نه ده.

د طبي بنسټ برنامه د پیسفک ګاز او بریښنا شرکت، سویلي کالیفورنیا اډیسن، سان ډیاګو ګاز او بریښنا شرکت او سویلي کالیفورنیا ګاز شرکت له لارې وړاندې کیږي. د نورو معلوماتو یا د نوم لیکنې لپاره، د خپل اوبو او برېښنا شرکت سره اړیکه ونیسئ.

# اوبه

## د اوبو پروګرامونه

CPUC د اوبو خصوصي شرکتونه تنظیموي، کوم چې ممکن د مرستې ځانګړي پروګرامونه چمتو کړي چې د هر شرکت د خدماتو ساحې لپاره ځانګړي وي او د عاید مختلف محدودیتونه لري. د خپلو اوبو شرکت سره اړیکه ونیسئ ترڅو د مصرفونکو برنامو په اړه نور معلومات ترلاسه کړئ. د عاید د وړتیا د محدودیتونو او د اوبو د شرکتونو د لیست لپاره چې دا ډول پروګرامونه وړاندې کوي، مهرباني وکړئ دې ویبپاڼې ته مراجعه وکړئ [www.cpuc.ca.gov/ water-assistance](www.cpuc.ca.gov/water-assistance).